بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# أَسْمَاءُ اللّٰهِ الْحُسْنٰى

## د الله ﷻ ښکلي نومونه

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلِلّٰهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوهُ بِهَا﴾ [الأعراف: ١٨٠]

**ژباړه**: او ښه نومونه يوازي الله ﷻ لره دي، نو الله ﷻ په هغو ښو نومونو سره را بولئ!.

**تفسير**: الله ﷻ تر ټولو ښکلي او غوره نومونه لري، چي پر بهترينو معناوو او صفاتو دلالت کوي، نو کله چي غواړی له الله ﷻ څخه کوم شی وغواړئ، نو د دعاء په وخت کي ورته په همدغو نومونو اواز کوئ!

که د بخښني غوښتنه کوئ، نو د "الْغَفَّارُ" ﷻ په نوم ورته فرياد کوئ، يَا غَفَّارُ اغْفِرْلِي. ژباړه: ای بخښونکي ذاته، ماته بخښنه وکړه.

که د رحم غوښتنه کوی، نو د "الرَّحْمٰنُ" ﷻ په نوم ورته فرياد کوئ، يَا رَحْمٰنُ ارْحَمْنِي، ژباړه: ای لورانده او مهربان ذاته، پر ما رحم وکړه.

**امام طبراني** - رحمه الله - له عبد الله ابن مسعود - رضي الله عنه - څخه همدغه ډول دعاء را نقلوي:

سُبْحَانَكَ لَا إِلَهَ غَيْرُكَ، اِغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَأَصْلِحْ لِي عَمَلِي، إِنَّكَ تَغْفِرُ الذُّنُوبَ لِمَنْ تَشَاءُ، وَأَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ، يَا غَفَّارُ اغْفِرْ لِي، يَا تَوَّابُ تُبْ عَلَيَّ، يَا رَحْمَٰنُ ارْحَمْنِي، يَا عَفُوُّ اعْفُ عَنِّي، يَا رَءُوفُ ارْأُفْ بِي. المعجم الكبير للطبراني (٢/ ١٣٣)

**رسول الله** ﷺ په يوه حديث شريف کي فرمايي:

{ إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ }

**ژباړه**: الله ﷻ لره ۹۹ نومونه دي، که چا دا نومونه ياد کړل، جنت ته به داخل سي. [متفق عليه]

**وهف القحطاني** - رحمه الله تعالى - په خپل کتاب شرح أسماء الله الحسنى کي د دې حديث شريف په شرح کي ليکي: أي من حفظها، وفهم معانيها ومدلولها، وأثنى على الله بها، وسأله بها، واعتقدها دخل الجنة.

**ژباړه**: يعني که چا ياد کړل، په معنى يې ځان پوه کړ، او الله ﷻ يې په همدې نومونو يادوى، دعاء يې په همدغو نومونو کول او عقيده يې ورباندي لرل؛ نو جنت ته به داخل سي. شرح أسماء الله الحسنى في ضوء الكتاب والسنة (ص: ٥)

نو پر همدې اساس دلته تاسو ته د الله ﷻ دا ښکلي نومونه او مختصره ترجمه وړاندي کوو: هر مسلمان بايد دا مبارک نومونه ياد کړي، په ترجمه يې ځان پوه کړي او په خپلو دعاګانو کي په همدې نومونو الله ﷻ را وبولي او خپلي غوښتني ورڅخه وغواړي.

## اَللّٰهُ جَلَّ جَلَالُهُ

لمانځلی (معبود)

## اَلرَّحْمٰنُ جَلَّ جَلَالُهُ

لورانه (ډیر مهربان)

## اَلرَّحِيْمُ جَلَّ جَلَالُهُ

لورین (رحم کوونکی)

## اَلْمَلِكُ جَلَّ جَلَالُهُ

څښتن (حقیقي باچا)

## اَلْقُدُّوْسُ جَلَّ جَلَالُهُ

خورا سپیڅلی

## السَّلَامُ جل جلاله

(له هره عيبه) سلامت

## الْمُؤْمِنُ جل جلاله

(مؤمنانو ته له عذابه) امن ورکوونکی

## الْمُهَيْمِنُ جل جلاله

ساتونکی

## الْعَزِيزُ جل جلاله

(پر هر چا) برلاسی

## الْجَبَّارُ جل جلاله

(د ټولو چارو) سموونکی

# الْمُتَكَبِّرُ جَلَّ جَلَالُهُ

لويي لرونکی

# الْخَالِقُ جَلَّ جَلَالُهُ

(د هر څه) پيدا کوونکی

# الْبَارِئُ جَلَّ جَلَالُهُ

پيدا کوونکی

# الْمُصَوِّرُ جَلَّ جَلَالُهُ

انځور (صورت) ورکوونکی

# الْغَفَّارُ جَلَّ جَلَالُهُ

خورا بخښونکی

## الْقَهَّارُ جَلَّ جَلَالُهُ

(پر هر څه) پیاوړی

## الْوَهَّابُ جَلَّ جَلَالُهُ

(د بدلې پرته) ورکړه کوونکی

## الرَّزَّاقُ جَلَّ جَلَالُهُ

(ټولو مخلوقاتو ته) زيات روزي ورکوونکی

## الْفَتَّاحُ جَلَّ جَلَالُهُ

(عامو او خاصو ته د رحمت) پرانستونکی

## الْعَلِيْمُ جَلَّ جَلَالُهُ

(په ټولو پټو او ښکارو) پوهېدونکی

## الْقَابِضُ جَلَّ جَلَالُهٗ

د بندګانو د زړونو تنګوونکی (روح اخستونکی)

## الْبَاسِطُ جَلَّ جَلَالُهٗ

(د زړونو او روزۍ) پرانستونکی

## الْخَافِضُ جَلَّ جَلَالُهٗ

(د نافرمانو) کښته کوونکی

## الرَّافِعُ جَلَّ جَلَالُهٗ

(د خپلو دوستانو د مرتبو) لوړوونکی

## الْمُعِزُّ جَلَّ جَلَالُهٗ

پت ورکوونکی

## الْمُذِلُّ جل جلاله

خواروونکی

## السَّمِيْعُ جل جلاله

بنده اوريدونکی

## الْبَصِيْرُ جل جلاله

بنده ليدونکی

## الْحَكَمُ جل جلاله

حکم ورکوونکی

## الْعَدْلُ جل جلاله

نياومن (انصاف کوونکی)

## اللَّطِيْفُ جَلَّ جَلَالُهُ

(د خپلو دوستانو سره) نرمي کوونکی

## الْخَبِيْرُ جَلَّ جَلَالُهُ

زيات خبر لرونکی

## الْحَلِيْمُ جَلَّ جَلَالُهُ

نرمي کوونکی

## الْعَظِيْمُ جَلَّ جَلَالُهُ

ډېر لوی (ذات)

## الْغَفُوْرُ جَلَّ جَلَالُهُ

خورا بخښونکی

## الشَّكُوْرُ جَلَّ جَلَالُهُ

(د لږ کار په بدل کي) ډېر مزد ورکوونکی

## الْعَلِيُّ جَلَّ جَلَالُهُ

خورا لوړ

## الْکَبِیْرُ جَلَّ جَلَالُهُ

(تر هر لوی) ستر

## الْحَفِیْظُ جَلَّ جَلَالُهُ

(د ټولو مخلوقاتو) زیات ساتونکی

## الْمُقِیْتُ جَلَّ جَلَالُهُ

(مخلوقاتو لره قُوْت) زوري ورکوونکی

## الْحَسِيْبُ جَلَّ جَلَالُهُ

ګڼونکی/ ټولو لره کافي

## الْجَلِيْلُ جَلَّ جَلَالُهُ

ډېر لوی

## الْكَرِيْمُ جَلَّ جَلَالُهُ

ډېر سخا کوونکی

## الرَّقِيْبُ جَلَّ جَلَالُهُ

زيات ساتونکی

## الْمُجِيْبُ جَلَّ جَلَالُهُ

دعا قبلوونکی

## الْوَاسِعُ جَلَّ جَلَالُهُ

پراخي راوستونكى

## الْحَكِيمُ جَلَّ جَلَالُهُ

حكمت لرونكى

## الْوَدُودُ جَلَّ جَلَالُهُ

په زړه پوري (په زړونو كي محبوب)

## الْمَجِيدُ جَلَّ جَلَالُهُ

ډېر سخي

## الْبَاعِثُ جَلَّ جَلَالُهُ

(مړى له قبره) پورته كوونكى

## الشَّهِيْدُ جَلَّ جَلَالُهُ

(په پټو او ښکاره شيانو) خبر لرونکی

## الْحَقُّ جَلَّ جَلَالُهُ

(ثابت) شتونی

## الْوَكِيْلُ جَلَّ جَلَالُهُ

د بنده ګانو چاره کوونکی

## الْقَوِيُّ جَلَّ جَلَالُهُ

خورا ځواکمن

## الْمَتِيْنُ جَلَّ جَلَالُهُ

ډېر محکم (چې په هيڅ کار نه ستړی کيږي)

## الْوَلِيُّ جَلَّ جَلَالُهُ

(د مؤمنانو) دوست

## الْحَمِيدُ جَلَّ جَلَالُهُ

ستايلى

## الْمُحْصِي جَلَّ جَلَالُهُ

(د ټولو مخلوقاتو د شمېر له مخي) اداره کوونکی

## الْمُبْدِئُ جَلَّ جَلَالُهُ

(تر هر څه لومړی) پیلوونکی

## الْمُعِيدُ جَلَّ جَلَالُهُ

(دوهم ځل) ګرځوونکی

## الْمُحْيِي جَلَّ جَلَالُهُ

ژوند ورکوونکی

## الْمُمِيْتُ جَلَّ جَلَالُهُ

وژونکی

## الْحَيُّ جَلَّ جَلَالُهُ

تل ژوندی

## الْقَيُّوْمُ جَلَّ جَلَالُهُ

(په خپله) قائم / (او د نورو) قائموونکی

## الْوَاجِدُ جَلَّ جَلَالُهُ

موندونکی

## الْمَاجِدُ جَلَّ جَلَالُهُ

(په اوچتوالي كې) لوى

## الْوَاحِدُ جَلَّ جَلَالُهُ

(په ذات او صفاتو كې) يوازنى

## الصَّمَدُ جَلَّ جَلَالُهُ

بې اړتيا

## الْقَادِرُ جَلَّ جَلَالُهُ

ډېر توانمن

## الْمُقْتَدِرُ جَلَّ جَلَالُهُ

واک ښندونکى

## الْمُقَدِّمُ جَلَّ جَلَالُهُ

(تر هر څه وړاندې کوونکی (د کوم څه وړاندې والی چې غواړي)

## الْمُؤَخِّرُ جَلَّ جَلَالُهُ

(تر هر څه وروسته کوونکی (پر ځنډ توانمن)

## الْأَوَّلُ جَلَّ جَلَالُهُ

(له هر څه) لومړی

## الْآخِرُ جَلَّ جَلَالُهُ

(له هر څه) وروستی

## الظَّاهِرُ جَلَّ جَلَالُهُ

(په نوښانو او دلائلو) ښکاره

## اَلْبَاطِنُ جَلَّ جَلَالُهُ

(د خلکو له سترګو پټ)

## اَلْوَالِي جَلَّ جَلَالُهُ

(د هر څه) سمبالوونکی

## اَلْمُتَعَالِي جَلَّ جَلَالُهُ

(د مرتبې له مخې) خورا لوړ

## اَلْبَرُّ جَلَّ جَلَالُهُ

(پر خپلو بندګانو) ښېګڼه کوونکی

## اَلتَّوَّابُ جَلَّ جَلَالُهُ

توبه قبلوونکی

## الْمُنْتَقِمُ جَلَّ جَلَالُهُ

غچ اخستونکی

## الْعَفُوُّ جَلَّ جَلَالُهُ

بخښونکی

## الرَّءُوْفُ جَلَّ جَلَالُهُ

خواخوږی

## مَالِكُ الْمُلْكِ جَلَّ جَلَالُهُ

د ټولو موجوداتو مالک

## ذُوالْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ جَلَّ جَلَالُهُ

د لويې او ورکړې څښتن

## الْمُقْسِطُ جَلَّ جَلَالُهُ

نیاو کوونکی (عدالت کوونکی)

## الْجَامِعُ جَلَّ جَلَالُهُ

(په قیامت د ټولو مخلوقاتو) یو ځای کوونکی

## الْغَنِيُّ جَلَّ جَلَالُهُ

بې پروا

## الْمُغْنِي جَلَّ جَلَالُهُ

بې پروا کوونکی

## الْمَانِعُ جَلَّ جَلَالُهُ

(له تاوانو) ژغورونکی

## الضَّآرُّ جَلَّ جَلَالُهُ

زيان رسوونکی

## النَّافِعُ جَلَّ جَلَالُهُ

ګټه رسوونکی

## النُّوْرُ جَلَّ جَلَالُهُ

روښنايي لرونکی

## الْهَادِی جَلَّ جَلَالُهُ

(د سمې لارې) ښوونکی

## الْبَدِيْعُ جَلَّ جَلَالُهُ

(له مادې پرته د مخلوقاتو) موندونکی

## الْبَاقِي جَلَّ جَلَالُهُ

تلپاته

## الْوَارِثُ جَلَّ جَلَالُهُ

(د ټولو مخلوقاتو) اصلي وارث

## الرَّشِيدُ جَلَّ جَلَالُهُ

لارښوونکی

## الصَّبُورُ جَلَّ جَلَالُهُ

زغمونکی (صبر کوونکی)